مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیک: نصیر ستوری

۲۰۲۵/۱۰/۰۴

# ۳ اکتوبر د جرمنیانو د یووالي ورځ

لومړنی نړیواله جګړه، چې څلورکاله ئي دوام وکړ، میلونونو انسانانو او نژدې ۱۷۷۳۷۰۰ جرمنیانو یکي هم خپل ژوند له لاسه ورکړ، داجګړه د ۱۹۱۸ع کال دنوامبرپه ۱۱ مه نېټه د ولادمیر ایلیچ لینن سره د اوربند او سولې د یو تړون په لاسلیک کولو سره پائي ته ورسیده.
په دویيمې نړیوالي جګړې (۱۹٤۵ ـ ۱۹۳۹) کې د اډولف هیټلر او د ملاترو (جاپان او ایټالیا) د پوځونو د ماتي ور وسته امریکا، پخوانی شوروي اتحاد، فرانسي او بریتانیا جرمني ونیوه او په څلورو برخو ئي وویشه.

په ۱۹٤۹ ع کال کې لودیځو هیوادونو (لودیځ بلاک) د کمونیزم د پراختیا له ویرې جرمني له پخواني شوروي اتحاد (ختیځ بلاک) سره په ختیځ او لودیځ وویشه، چې له دریو برخو ئي لودیځ جرمني او له یوې برخي ئي ختیځ جرمني جوړکړ.
لودیځ جرمني دبن ښار او ختیځ جرمني برلین ښار ناستون (پایتخت/مرکز/پلازمینه) وټاکل او په ۱۹٦۱ ع کال کې د ختیځ جرمني له خوا د برلین دیوال جوړشو.

دا چې د جرمنیانو وېش د استعماري او زبېښاکي ځواکونو له خوا شوی و، نو د لوېدیځ جرمني دا پوره باور و, چې دا قوم په زور دوه ټوټي شوی، چې وخت راشي، نو خامخا به یو ځای کیږي. پر همدې بنسټ ئې د خپل پارلمان په تالار کې د ختیځ جرمني لپاره خالي څوکی پرېښودې وې.
کله چې د وارسا تړون غړو د ۱۹۸۹ ع کال د جولاې میاشت کې په بخاریست کې غونډه وکړه او میخایل ګورباچو ف د برژینیف دنظرئي (ډوکتورین) د لغوه کیدو اعلان وکړ، په دې سره د سوسیالیستي ورونو هیوادونو پر وړاندې د پخوانی شوروي اتحاد د برغل حق لغوه شو، چې له دې وروسته به د ماسکو ملاتړي (متحدین) د خپلو ملي مس ایلو د حل لارې چارې پخپله لټوي، چې په دې سره د جرمنیانو د بیا یو کیدو لپاره لاره لنډه شوه (۲)

ښاغلي تارېخپوه ایډوکیټ علي خان محسود (مسید ) د «جرمنیان بیا یو شول» تر نامه لاندې کتاب کې لیکي:
" کله چې په مارچ ۱۹۹۰ کې میخایل ګوباچوف په اقتدار راغی، نو ګورباچوف اعلانونه کول، چې زه غواړم چې د مغرب سره تعلقات ښه کړم او کور دننه ژور اصلاحات کولو ته تیار یم، خو د مغرب دا خیال وو، چې تر څو پ ورې روسي پوځونه پر افغانستان قابض وي، نو مونږ باور نه لرو، چې تاسو څه وایې، ګني داسې کولو نیت هم لر ئ.

ګورباچوف ته وخت پکار وو، چې خلک ذهني او نفسیاتي دې ته تیار کړي، چې افغانستان جنګ نه زمونږ په خیر دی او نه د افغان ولس.
چې وخت راغی ، نو ګورباچوف له افغانستان څخه خپل پوځونه وویستل.
پدې سره د مغربي سرمایه داری دونیا رویه بدله شوه او د ګورباچوف سیاست ته یې د اعتبار په سترګه کتل او د مشرقي بلاک په ځوانانو کې د امید ډیوه راځرګنده شوه.
خو زاړه او منګي سرو کمونیسټانو ورته د شک او کرکې په نظر کتل.

کال ۱۹۸۹ په لومړیو کې ګورباچوف د مغربي جرمني دوره وکړه، نو هر ځای ورته خلکو د مینې ډکه ستړې م شي وکړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کال ۱۹۸۷ کې د مشرقي جرمني لیډر ارخ هونیکر اول ځل لپاره مغربي جرمني ته راغی، د ۱۹۴۹ نه تر ۱۹ ۸۷ پورې د مشرقي جرمني مشر مغرب ته نه وو راغلی ، نو د مغربي جرمني چانسلر ډاکټر هیلموت کول خپل تقریر کې وویل، چې موږ جرمنیانو ته پکار دي، چې خپل تعلقات عادي کړو، تګ راتګ اسانتیا ګانې جوړې کړو او د دیوال (برلین دیوال) نه د را اوښتو د مرګ حکم دې بیرته واخستی شي.
ښاغلي ارخ هونیکر په ځواب کې وویل، چې مغربي جرمني سرمایه داري او موږ سوشلستي نظام لرو ، نو دا اور او اوبه دي، دغه هېڅکله یوځای کېدای نه شي.

په ۱۹ اګست ۱۹۸۹ کې یو پیکنیک ( میله) د اسټریا ( اتریش) او هنګري د خلکو تر مینځ جوړ شو، چې یوروپ پیکنیک نوم یې ورکړ، ځکه، چې هنګري حکومت دغه خار داره تار لرې کول د کمیونیزم په کیمپ باندې اولنی ګوزار وو.

د مشرقي جرمني اوسیدونکی ، چې په رخصتیو کې هنګري ته تللی وو، له موقع نه یې فایده واخسته او تقریبا شپږ سوه یو شپېته کسان په ګڼه ګونه کې اسټریا ته راواوښتل او یوسل اته کسانو په بوډاپسټ کې د مغربي جرمني په سفارت کې پناه واخسته

۲۸ سپټمبر ۱۹۸۹ کې ٦۰۰ مشرقي جرمنیانو د مغربي جرمني سفارتخانه پولینډ وارسا کې او دغه راز تر ۳۰ س پټمبر ۱۹۸۹ پورې ، پراګ چکوسلواکیا کې د مغربي جرمني سفارت کې ۷۰۰۰ کسانو پناه واخسته

۱٤ اکتوبر ۱۹۸۹ کې د مغربي جرمني وزیر خارجه ښاغلي ګینشر دغه مشرقي جرمنیانو ته د مغربي جرمني د ت ګ خوشخبري ورکړه.

۱۸ اکتوبر۱۹۸۹ کې ښاغلی ارخ هونیکر له ټولو عهدو لاس پورته کړ او ددې پرځای ښاغلی ایګون کرینس وټاکل شو
په ۹ نوامبر ۱۹۸۹ د پولیټ بیرو غړي او پریس چارو مشر ښاغلي شابوزکي د پریس کنفرانس په دوران کې وویل ، چې د اوس نه چې هر څوک مغرب ته تلل غواړي، نو د مغربي جرمني او مغربي برلین پر ټولو لارو تللی شي د تللو اجازت اخستو لپاره سرحدي پولیس څوکی ته واک ورکړل شوی دی، چې دوی به د پاسپورټ او ویزې کارو ایي کوي.
ددوی خیال وو، چې هغه څوک به لاړ شي، چې څوک د تګ لپاره مظاهرې کوي، خو دلته نتیجه یې الټه وخته. دو ی پدې یقین وو، چې هغه خلک چې مشرقي جرمني کې مظاهرې کوي او غوبل یې جوړ کړی دی او مطالبې کوي ، چې د سفر اجازت راکړئ، نو دوی به لاړ شي او موږ به ترې په ارام شو. خو پدې اعلان خلک بل څه پوه شول ، ددوی خیال وو، چې ګڼي سرحد ازاد شو موږ تلی راتلی شو.

ددې اعلان سره ټول مشرقي جرمني خلک مغرب ته په خوځیدو شول. خلک دومره ډېر شول، چې ځوانانو د ګیټ ډنډې ماتې کړې او د سیلاب غوندې پرې راغلل.
د برلین دیوال د خلکو په زور مات شو او یو جشن جوړ شو. هر چا خپل خپلوان لټول.

مغربي جرمني حکومت هر مشرقي جرمني ته د سترې مه شئ سل سل مارکه ورکول، دغه راز د ټولو ریل ګاډو، ښاري ټرمونو او بسونو کرایه مفته وه. *(۱)

دنوامبر د نهمي او لسمي نېټي ترمنځ پدې تاریخي شپې کې یوازې په ٤۸ ساعتونو کې دپخواني ختیځ جرمني (ډي ډ ي ار) په زرګونو وګړي لودیځ برلین او د جرمني فدرالي جمهوریت ته په پښو، بایسکلونو او ګاډو (موټرو) کې س پاره ورغلل (۲)

د ۱۹۸۹ م کال د نوامبر میاشتي په ۹ مه نېټه ٤۰ کاله وروسته جرمنیان بیا یو شول.

په ۱۲ سپټمبر ۱۹۹۰ کال کې د لودیځ جرمني د بهرنیو چارو وزیر ګینشر
د ختیځ جرمني لومړی وزیر او بهرنیو چارو وزیر ښاغلي لوتهر ډیمیزېر
د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي شیوردناډزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د برتانيي بهرنيو چارو وزير ښاغلي ډګلس هرډ
د فرانسي بهرنيو چارو وزير ښاغلي رونلډ ډوماس پر يوه معاهده لاسليکونه وکړل، چي جرمني به د ۱۹۹۰ کال د اکتوبر د ۳ مي نېټي څخه يو هېواد وي وي *(۱)

د جرمني فيډرالي (اتحادي) جمهوريت خپل ناستون (پايتخت/مرکز/پلازمېنه) بيرته د برلين ښار وټاکه، د اکتوبر در يېمه (۳ مه) نېټه ئي د جرمنيانو د يووالي د ورځي په نوم ونوموله

په منځنی اروپا کي د جرمني فيډرالي (اتحادي) جمهوريت چي ختيځ ته ئي پولينډ اود چيک جمهوريت، لوديځ ته ئ ي فرانسه، بلجيم، لوګزمبورګ او هالنډ، سويل ته ئي اتريش اوسويس، شمال ته ئي شمالي سمندر، ډنمارک او د بال ټيک سمندر پراته دي د پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخستل، د ژوند ژواک په هر برخه کي بيرته يوستر ځواک شو.

د UN، OECD، NATO
G7 او د G2 غړيتوب لري. د EPA، ISGH او د اروپا مرکزي بانک مرکزونه هم په جرمني کي دی.
د نړی څلورم لېږونکی (صادرونکي) او راوړنکی (واردونکی) هيواد دی.

برلين Berlin، براندينبورګ Brandenburg، برېمن Bremen، بايرنBayern، باډن ورټم ،بېرګ Baden-Württemberg،هامبورګHamburg، هيسنHessen،
ميکلينبورګ-فورپومرن Mecklenburg-Vorpommern، نيدرزاکسن Niedersachsen ، نورد راين- ويسټ فالنNordrhein-Westfalen، راين لاند-فالز-Rheinland-
Pfalz،تورينګنThüringen، زارلاند Saarland، زاکسنSachsen، زاکسن-انهالټ -Sachsen
Anhalt اوشليسويګ-هولشټاين-Schleswig
Holstein، په نامه شپاړس ولايتونه (سوبې) او۸٤،۷ ميلونه وګړي( نفوس) لري.(۲)

جرمنيانو له څلوېښتو کالو وروسته يووالي ترلاسه کړ، خو له بده مرغه دوه دېرش دېره سل کاله کيږي، چي د پښ تنو خاوره او پښتانه د انګريزي ښکېلاک او زبېښاک له لاسه پر څلورو برخو ويشل شوي پراته دي.

سره ددې، چي افغان واکمنانو د ډيورنډ کرغيرنه کرښه منلې نه ده، ډېر مناسب فرصتونه په لاس ورغلي وو، د پښتنو د يووالي، نژدېوالي، قامي وحدت او د خاورې د يو ځای کولو لپاره هيڅ پلی (عملي) ګام پورته نه کړ.

په پارلمان کي ورته خالي کرسۍ پرېښودې، د اساسي قانون د کورني سياست پرځای يې دا مسئله د بهرني سياس ت برخه وبلله، چي دا خپله د ستري بې‌غورۍ او سياسي بې مسؤليتی څرګندونه کوي.

خو له نېکه مرغه، پښتون ولس، په ځانګړې توګه د پښتنو ځوان کول (نسل)، اوس بيدار شوی دی، سياسي شعور يې لوړېږي، او ملي احساس يې پياوړی شوی دی، دا ټوټه ټوټه وجود به بيا يو ځای کړي او د ستر پښتون ملت دا ا ورډه بدمرغه غمېزه به پای ته ورسېږي.

په پايې کي يوه يادونه اړينه بولم، چي د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند (PSDP) د ۱۹۹۳ کال د نوامبر په ۱۲مه ن ېټه، د ډيورنډ لاين کرغېړني کرښې هغه توافق ليک چي ان د اعتبار نېټه يې هم نه لرله، د جرمني د کولن په ښار کي په يوه ستره غونډه کي، چي د انګلستان د سفارت د بهرنيو اړيکو مشر "کارنا روسز" هم ورته رابلل شوی و ، په رسمي توګه لغوه اعلان کړ او د ردي کاغذونو ټوکری ته يې وغورځاوه ، د نوامبر ۱۲مه نېټه يې د "پښتنو د يووالي ورځ" په نامه ونوموله او هر کال دا ورځ د پښتنو د يووالي، قامي وحدت وپښتيا، ملي شعور او بيداری په پار په بېلابېلو بڼو لمانځي.

درنښت

اخستونځی:
: (۱)جرمنيان بيا يو شول
: (۲)پښتونخوا ډاټ کام
03.10.2025


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ